مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ع. شیرزوی ۲۰۱۸/۴/۱۷

# د افغانستان تاریخي دورو ته لنډه کتنه

## (لومړی برخه)

د افغانستان تاریخي دورې د شپږمي میلادی پیړۍ څخه د مخه ښاوخوا ۲۵۰۰ کاله په لنډو ورته کتنه کوو.

۱ - د ډیرو پخوا دورو څخه تر ښپږمي میلادی پیړۍ د میلاد څخه پخوا د آریانا سیمه د نړۍ د تمدن او پرمختګ پنځم کانون بلل کیده چې د هندوکش د غرو په دواړو خواو کې پریوت (موقیعت) درلود، کوم ګڼ شمیر آثار چې د لرغون پوهانو څخه د افغانستان د مختلفو سیموڅخه تر لاسه شویدي د خلکو د ژوند لوړه سطحه بیانوي او خپل تاریخي لرغونتوب د د دوزرو- دري زره کالود میلاد څخه پخوا پدې سیمه کې بښي، د اوستا کتاب چې د آریانا خاورۍ نوم او خلک یې آریا نومول هم د افغانستان تاریخي لرغونوالی ثابتوي.

۲ - د ۵۴۵- ۳۳۳ کالو د میلاد څخه د مخه په افغانستان کې د هخامنشیانو د حکمرانی دوره وه، دوي د آریایانو یوه ډله وه چې د مرکزی آسیا څخه افغانستان او ایران ته راغلل چې د ( لوی کوورش ) په امر سره د ایران په «فلات» کي یو حکومت رامنځ ته کړد رامنځته کیدو سره جوخت یې اوسني ترکیه، بین النهرین، دجله، بابل، سوریه او فلسطین د کوورش په واکمني کې راغلل.

۳ - له ۳۳۳- ۲۵۰ د میلاد څخه د مخه د یونانیانو د یرغل دوره وه او د سکندر د فلیپ زوی راتګ افغانستان ته دی چې د څلورو کالو جګړی ورسته د افغانستان په نیولو بریالی شوه پدي وخت کي بودایي او زردشتی دین په افغانستان کې معمول وه.

۴ - د ۲۵۰ – ۱۵۰ کاله د میلاد څخه د مخه د باختری یونان دوره په افغانستان کې ده چې د یونان د حکومت څخه په مستقل ډول «سلوکوس» رامنځ ته کړه په همدی دوره کي یوانی رسم الخط هم په افغانستان کې رواج پیدا کړ.

۵ - د کوشانیانو دوره: په څلویشتم میلادی کال کي کوشانیانو یو څواکمن دولت په افغانستان کې رامنځ ته کړ، (کجولا) د دي کورنی بنسټ آیښودونکي وه، د تاریخي روایاتو پر بنیاد دا کورنی د آریائي د ګډوالو څخه وه چې د چین له لویدیځ څخه « تاریم » له صحرا څخه راولاړ شوی دی، دوی له چیني جګړه مارو په واسطه له هغه ځایه وشړل شول دوی له نورو قومونو سره یو ځای د لویدیځ خوا څخه یې د ایران پر « فلات » یرغل وکړ او له هغي ځایه ئي خپل د یرغل لمن پراخه کړه.په پایله کي کوشانیانو پام د هند نیمي وچې ته واوښته ورسته د دوه سوه کالو حکمرانی ورسته له منځه ولاړل.

۶ - یفتلایان: د دي کورنی بنسټ ایښودونکي (فتا یلتو) نومیده چې د ۴۹۵- ۵۶۶ م کال پوري حکومت وکړ، د یو لړ پوهانو په اند د دوي پښه د« تبت » د ترکانو پوری تړي چې په شمال د هندوکش کې ډیر څواکمن وه د دي دوری ستر مورخ ( بیزانسی ) لیکي: چې دوي د زیر پوستو له نژاد سره توپیر درلود، هغوي سپین پوستی ډیر با ادابه او مهربانه وه..

۷ - کابل شاهان: د یو څواکمن حکومت د نه شتون په وجه او د محلی دولتونو منځ ته راتګ دي دوری له اومي پیړی څخه تر نهمي پیړی پوري دوام پیدا کړ، او دغه حالت د دي سبب شول چي ترکانو او سامانیانو په افغانستان کې نفوذ پیدا کړ او بودائي دین د خلکو په منځ کې وپنځیده.

۸ - د ۴۵۰ – ۴۷۵ م پوري د افغانستان له شمال لوري څخه سپین پوټکو قومونود « هونون او خویونین » یرغل وکړ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۹ - د ۴۵۲- ۶۶۴ کالو کي د اعرابو نفوذ په افغانستان کي او د اسلام د مقدس دين خپرول وه چي د لويديځ څخه يي تر باميانو پوري اغيز پيدا کړ.

۱۰ - د ۸۲۱- ۸۷۲ ميلادی پوري طاهري دوري واک په لاس کي ونيوه او لومړني اسلامی دولت يي په افغانستان کي رامنځ ته کړ، د طاهريانو د سلسلی بنسټ ايښودونکي ( طاهرفوشنجي ) دی چي د لومړی ځل له پاره يي افغانستان د اعرابو د واکمنی څخه خلاص کړ.

۱۱ - په ۸۲۲ ميلادی پيری کي يعقوب ليث صفاری واک په لاس کي ونيوه او صفاريارنو تر ۹۱۰ م کال پوري واکي پلاس کي درلود.د صفاريانو کورني د ايران، تاجکستان او د اوسني پاکستان په ځينو لويو برخو باندی حکومت کاوه چي پلازمينه ئي د « زرنګ » ښار وه يو لړ تاريخ پوهان هغوي د سامانيانو له ټبر څخه ګڼي چي د اعرابو د يرغل په پايله کي سيستان ته ګډه شوي وه .

۱۲ - د ۹۱۰ څخه ښاوخوا نيمه پيریٔ سامانيانو واک پلاس کي درلود د دي سلسلی بنسټګر« سامان خدا » وه د سامانيانو سلسله د زاړه ايران د کورنيو سره تړلي ده چي لړ او ډير د خراسان په ټولو سيمولکه: مکران، سيستان، خوارزم، هيرکان او په کرمان يي حکمراني درلوده.
په درناوی
د لومړی برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ